مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حبیب الرحمن رحیمي ۲۰۲۳/۰۳/۰۵

د هوسۍ خوله

د تلویزون پر هینداره د وحشي ژوو خپرونه را واوښته ، د ژوو په اړه پلټونکي ډلې د ونو او ځنګلونو په منځ کې زیات مزل وکړ، ډېر نوي څه یې د طبیعت له رنګنیو څخه زموږ سترګو ته وښودل اوبه یې په لوی سیند کې رواني وې، د بوټو او وښو منظومه تازه په نڅا راغلې وه ، د پسرلي له راتلو یې اورېدلي و او د ونو پاڼې هم د لورې د لېې په کچه لویې شوې وې.

ګڼ ځنګل او لویې ونې ښکلې وې ،کورنه ډېر لږ مخ ته راتلل ، هغه هم د لمرد وړانګو د مخنیوي د سیوري په اندازه ترتیب شوي وو خو سیلانیان په کښتۍ کې سپاره شول خو نورې وړې کښتۍ هم په کې رواني وې دوه او زیات کسان به په کې سپاره وو، ساده د کار توکي یې لرل ، د سیند او وچې ژوي یې ښکارول او په کښتیو کې یې له ځان سره انتقالول.

انځورګر کمره دا وخت لوی مار ته برابره شوه؛ تر وحشي ژوي داسې تاو راتاو دی چې نور یې خوړلو ته چمتو کړی دی که څه هم یې خپل ژوند د پایښت لپاره د تېښتې هڅه کوله او ممکن دا موکه یې هم موندلې وی خو دا وخت له لېرې یو لېوه راغی تمه دا کېدله چې به یې وژغوري خو کله چې لېوه ته دا وخت په لاس ورغی چې د هوسۍ تر ټول تن پرته له سرمار پېچل شوی دی نویې خوله د هوسۍ پر خوله ولګوله.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ